هاري                                                                 واشنګټن   ۱۴/۰۶/۲۰۰۹

# د ښاغلي اشرف غني مرکه

د واشنګټن ټايمز ورځپاڼي د جون پر ۱۱ د افغانستان د جمهوري رياست کانديد ښاغلي اشرف غني سره په کابل کې مرکه کړې ده. د مرکي عنوان جالب دی، خو په پښتو کې د بيانولو لپاره يې مناسبه کلمه او عبارت نسته، او يا زه تر اوسه پوري نه يم پر پيښ سوی. د انګريزي عبارت يې "ډارک هورس" يا " خيره او توربخونه اس" دی. د امريکا په سياسي قاموس کې خيره اس هغه کانديد ته وايي چي د انتخاباتو په لمړی شپو او روځو کې ځارونکو جدي نه وي نيولی، خو بالاخره انتخاباتي کمپين وګټي. په متحده ايالاتو کې، عموما د جمهوري رياست انتخاباتو په بهير کې همدا عبارت داسي کانديد ته کارول کيږي چي د عامه توقع پر خلاف خپل ټول سياسي رقيبان مات کړی او انتخاباتي ميدان وګټي. لکه په متحده ايالاتو کې د ۲۰۰۸ د جمهوري رياست انتخابات چي په لمړيو ورځو کې د ګوټو په شمار مبصرينو د ښاغلي اوباما د برى خبري کولې، خو بالاخره يې انتخابات وګټل. لدې سريزي را وروسته، محترمو لوستونکو ته د رپوټ بشپړه ژباړه وړاندي کوم.

د جمهوري رياست لپاره مخکښ کانديد اشرف غني وايي ډيري ښې مفکورې لري، خو دکمپين لپاره په کافي اندازه منابع او پيسي نلري. اشرف غني د حامد کرزي يوازنی جدي رقيب دی. هغه وايي افغانستان د امنيت تر ځنګ " يو روښانه خيال او نظر، او سالم مديريت" ته هم اړتيا لري. د ماليي پخوانی وزير وايي هغه همدا خلا ډکولای سي.

هغه زياتوي: اوسنی حکومت " تل نوري او ډيري پيسي غواړي، خو د سم مصرف ظرفيت او قابليت يي نلري." هغه وايي: له ۲۰۰۱ راهيسي متحده ايالاتو ۶۰ بيلونه ډالره مرسته کړې ده. کېدایسي چي همدا مالي مرستي د اقتصادي زير بنا په جوړولو، د سړکانو، پلونو، برق، او اوبو د لګولو پر پروژو او د نويو کارونو پر خلقولو باندي په موثره توګه ولګول سي، ځو په نتيجه کي هم پر خارجي او بين المللي چاندو باندي د افغانستان دايمي تړاو راکم سي، او هم بين المللي ټولنه د افغانستان له پرابلوم ځخه خلاصه سي.

ښاغلی اشرف غني وايي: د کرزي حکومت هر کال ۷۰ فيصده ملي عايدات حيف ميل کوي. اداري فساد او د کرزي بد مديريت د افغانستان د ملي عايداتو د خورد برد لپاره ايډال او مناسب شرايط برابر کړي دي.

واشنګټن ټايمز اخبار زياتوي په افغانستان کي د جمهوري رياست انتخابات په داسي وخت کي کيږي چي ښاغلي اوباما هغه هېواد ته نور عسکر استوي.

ډاکټر غني وايي هغه غواړي چي نظامي عمليات او اقتصادي وده او پراختيا سره جوړه کړي. هغه د زراعتي صادراتو زياتول، د کانونو را ايستل، او د برق او اوبو د نويو بندونو جوړول غواړي. هغه ټينګار کوي چي د اوبو او برق د بندونو جوړول به افغانستان په سيمه کي د انژری د صادرونکو هېوادونو په کتار کي ودروي، نه د نن ورځي په شان چي حتی بريښنا هم له بهره را واردېږي. هغه ګومان کوي چي همدا به افغانستان د چين او په سيمه کي د نورو هغو هېوادونو سره ونښلوي چي د خامو منابعو او انژری لپاره سوځنده تنده او زياتېدونکي اړتيا لري.

اشرف غني وايي په هغو سيمو کي بايد اقتصادي انکشافي پروژې پياوړي او ګړندی سي چي همدا اوس پکي نسبي امنيت ټينګ دي. هغه وايي د شمال اته باثباته ولاياتو ته بايد لمړيتوب ورکړه سي ځکه هلته به اقتصادي وده او پراختيا پر نورو ولاياتو باندي هم ښه اغيزه وکي، او د ټول ملک لپاره به مثال وګرځي. ورو ورو به له امنو ځايونو ځخه هغو سيمو ته د اقتصادي انکشاف لمن وغزول سي چي دمګړی پکي ناکراري او جنګونه دي، په تېره بيا جنوبي او مشرقي ولايات.

ډاکټر غني د ټيلفون او ټله کميونيکشن دوی کمپنی يادوي چي په لمړی سر کي يي د اجازې او لايسنس د اخستلو لپاره د ۵ ميلونو ډالرو لګښت ته زړه نه ښه کاوه. هغه وايي همدا دوې کمپنی اوس ځه د پاسه ۶۰۰ ميلونه ډالره ارزي، او ځه د پاسه يو ميلون مشتريان لري. په مارکيټ کي اوس دری نوري کمپنی را پيدا سوي دي، او قريب يو بيلون خصوصي پانګه يي ور جلبه کړېده. خو بيا هم، افغانستان نن سبا په نړی کي تر ټولو ملکونو وروسته پاتي هېواد دی، او حکومت يي په بدو او اداري فساد کي تر غوړو پوري کي ډوب دی. د افغانستان اقتصادي ستونزي بېشماره


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

دي. د مخدره موادو کر او قاچاق اقتصاد او اداره فساده کړې ده. همدا بد شرایط د طالبانو د رشد او پرمختګ لپاره شیدې او غوړي دي.

د واشنګټن ټایمز اخبار لیکي: ځیني غربي دپلوماتان او مبصرین ګومان کوي چې د اشرف غني د ښو مفکورو او هلو ځلو سره سره به انتخابات حامد کرزی وګټي، ځکه هغه پدې وروستیو میاشتو کې د خپلو مخالفانو سره انواع و اقسام معاملې کړي دي. خو اشرف غني د هغوی اټکل په کلکه ردوي او وایي،" همدا غربي مبصرین او دپلوماتان په خپلو سفارتونو کې رااېسار او کلا بند دي." هغه زیاتوي، " نن ورځ هیڅوک لدې څخه انکار نسي کولای چې اصلي پرابلومونه کوم دي. هغه وایي، زه حامد کرزي ته د مادي منابعو په زور او مټ چلنج نه سم ورکولای، بلکې هغه ته د مفکورو او کار او خدمت په ساحه کې چلنج ورکوم." هغه وایي: د بهرنیو چارو د پخواني وزیر ډاکټر عبدالله سره د یوه سیاسي شراکت د مفکورې مخالف ندی.

د مالیې د وزارت په ترڅ کې، ښاغلی غنی اصلاحات را وستل او انکشافي پروژې یې تشویق کړې. هغه نوي پیسې چاپ کړې، او د ګمرکاتو عایدات یې د مرکزي دولت تر کنټرول لاندې راوستل. اشرف غني دغه راز پخپل وزارت کې حساب وکتاب او شفافیت راوست. یو وخت یې حتی پرته له معاش څخه کار کاوه. له وزارت را وروسته، د کابل پوهنتون ریس وو. په ۲۰۰٦ کې، د ملګرو ملتونو د سرمنشي د مقام لپاره ونومول سو. هغه په بین المللي ټولنه کې یوه پیژندل سوې څېره ده. ښاغلی غني په علمي او سیاسي مرکزونو کې څېړنې کوي، کتاب ، مقالې، او په اخبارونو کې تبصرې لیکي.

په امنیتي ساحه کې، اشرف غني د ولسمشر اوباما پالیسي او مفکوره غوره ګڼي. هغه وایي د امریکا اوسنی حکومت د جنګ او سولې لپاره روښانه او منظمه پالیسي لري. د اوباما اداری پر افغانستان او پاکستان باندې فوکس کړی دی، او هم یې د اولسي خلکو سره د روغې جوړې سمه فیصله کړېده. هغه ټینګار کوي چې بمباری او د ملکي خلکو وژل ماتې حتمي کوي. هغه زیاتوي، " یوه اشتباه کولای سي چې د یاغیانو پر خلاف د میاشتو میاشتو خواری عبث او بې اثره کړي."

هغه وایي که انتخابات وګټي، د طالبانو له استازو سره به خبرو ته کښېني." اشرف غني زیاتوي: کېدای سي چې اکثره طالبان او یاغیان د یوه کار په ورکولو راضي سي. مګر د هغو سرتېمبه جنګیالیو سره چې د دولت ړنګولو ته یې ملاوې تړلې دي، د هغوی سره باید د قوت له دریځه معامله وسي."

ورځپانه زیاتوی: که څه هم هیڅوک د اشرف غني د فکري قوت څخه انکار نه کوي، خو هغوی دېته حیران پاته دي چې هغه به دونه زور او واک له کومه کړي چې هم د طالبانو چاره وکي، او هم د امریکا په پیسو مست او شتمن جنګسالاران پر ګونډو کي. دغه راز، په کلیوالي سیمو کې د هغه د اثررسوخ په اړه هم اندېښنې موجودي دي.

که څه هم اشرف غني په امریکا کې ډېر وخت تېر کړی دی، خو اوس پخپل کور کې په افغاني جامو کې ناست، او د دې وطن بچی ښکاري. د هغه د ناستې په کوټه کې د افغاني دود او رواج سره سم، دواړو خواوو ته توپکان ځړېږي. د ورسې شاته هلته د غولې د ونو تر سیوري لاندې یو سپی شا و خوا ګرځي.

اشرف غني ادعا کوي چې افغانان باخبره خلک دي. که څه هم بې سوادي ډېره جګه ده، خو سیاسي شعور هم جګ دی ځکه پدې دیرشو کلونو کې سیاسي ثبات او کرارې چا په سترګو نده لیدلې. هغه وایي، " عادي افغانان هره ورځ څلورو راډیوګانو ته غوږ نیسي. موږ افغانان نه بېخبره یو، او نه هم احمق."

پایان


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de